






# فاروق « فردا »

د نشرنیټه : 9 می 2022 میلادی

# غزل

کله يې د خيال غشی مې زړه وژني
کله پر کتو کله پر خوله وژني
سپورې يې بلې, انګړ نيولی دی
پيغله ګاونډۍ مې په کاله وژني
ما يې له ست تشه خولې وړې ده
وی پوښتې چې نور مې بيا په څه وژني
زه يې سايبان ترو غرمو کښې وم
داسي عاشقان معشوقې نه وژني
ياره زه په سُر د کلي پوه نشوم
هر خپل چې مَلِک شي خپلوان ښه وژني
عقل سر د زلفو پر بالښت ايښی
ويښ دی ليونی ستوري رانه وژني
زه يې دنظر له کرپوان پری وتم
خود مې يې ريښکي د ګريوانه وژني
خوږ چې پر مبلمه به د خپل زړه غوښې
اوس خپله, حجره کښې ميلمانه وژني
څوک چې ورته زړه ځښوي پوه دې وي
دا دلبونو ملتيا ده مله وژني
ټول حسن يې زما دغزل يوه مصراع
په راته وژني، شعر مې ښکلې ولې ؟

پېژنم يو څوک  دی د خپل پت قاتل
څومره چې سپک شوی دی درانه وژني
ګډې يې  لمبې دي زما رګونو کښې
شمعې  ځان له تنه په واته وژني
درسته شپه مې بربنډ خيال کی پته وه
اوس مې  تش نظر په لمر خاته وژني
***
فاروق « فردا »
د 2022 کال د می اوله



عکس د فرهنګ د وياړلي خدمتګار مرحوم بختاني صاحب سره.

www.said-afghani.org — بازگشت به صفحه اصلی